AJSC

AFGHAN JOURNALISTS SAFETY COMMITTEE

# د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټه

## ۶ میاشتنی رپوټ

دجنورۍ له ۱ نه د جون تر ۳۰ مي۲۰۱۵



# فهرست

**عنوان**


لنډيز......................................................................................................................................الف
سريزه.......................................................................................................................................ب
د ۱۳۹۴په لومړيو شپږومياشتو کې دخبريالانو پر وړاندې د تاوتريخوالي پيښې .خشونت عليه ......................۱
دتاوتريخوالي دپيښو ګراف............................................................................................................۲
دکميټې عدالت غوښتنه.............................................................................................................۱۰
دملي وحدت په حکومت کې دبيان د ازادۍ او خبريالانو وضعيت او دحکومت ژمنې او کړنې..................۱۰
هغه څه چې په دې برخه کې تر اوسه شوي دي.............................................................................۱۱
په افغانستان کې د خبريالانو د کار د کيفيت ټيټوالی او لاملونه يې..........................................................۱۱
دښځينه خبريالانو پروړاندې جنسي تبعيض او محدوديتونه .................................................................۱۲
په ولايتونو کې د خبريالانو او رسنيو ستونزې....................................................................................۱٤
د رسنيزو شکايتونو او سرغړونو کميسيون لغوه کيدل .......................................................................۱٥
معلوماتو ته د لاس رسي پر قانون د څار کميسيون جوړيدل..................................................................۱٥
پايله او سپارښتنې........................................................................................................................۱٦

# لنډیز

د۲۰۱۵میلادي کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د افغان خبریالانو دخوندیتوب کیمټې دخبریالانو پر وړاندې دتاوتریخوالي ۳۹پیښې ثبت کړې دي . دغه شمیره دتیرکال دهمدغه وخت په پرتله ۴۳سلنه کموالی ښیي ،د ۲۰۱۴کال په همدغو شپوورځوکې ۶۳پیښې ثبت شوې وې. د رپوټ ورکونې په دغه موده کې یو کس خبریال وژل شوی دی او څلورنوړپیان شوي دي. ۱۹تنه خبریالان وهل ټکول شوي دي ،۲تنه نیول شوي او ۱۳نورله بیلابیلو ګواښونو سره مخ شوي دي. د خبریالانو له ملاتړو اداروسره دخبریالانو اړیکې او همغږی، پخپله دخبریالانو د مدافع بنسټونو ترمنځ دخبریالانو دحق غوښتنې او خوندیتوت لپاره ښه همغږي او دغه راز له خبریالانو نه دافغان حکومت دمشرانو ملاتړ ښایي ددغو تاوتریخوالو دکمیدا له لاملونو څخه وي.

پورته یادوشویو ۳۹پیښو نه هغوکې یې خبریالان د حکومتي منسوبینو لخوا ګواښل شوي او یاهم له تاوتریخوالي سره مخ شوي چې په دې توګه حکومت د ۷۲٪ پیښو مسوول ګڼل کیږي. طالبان د ۱۲٪ تاوتریخوالو،ناپیژنده کسان د ۱۲٪ او سیمه ییز زورواکي هم د ۳٪ تاوتریخوالو مسوول پیژندل شوي دي. دغه شمیره دافغان خبریالانو له خوا د شپږمیاشتنیو دغه شان رپوټو دچمتوکولو له مهاله تر اوسه د حکومتي منسوبینو له خوا دخبریالانوپروړاندې د ترسره شویو تاویرخوالو ترټوله لوړه کچه ښیي.

په دغوشپږومیاشتو کې لویدیځ زون دخبریالانو پروړاندې دتاوتریخوالود ۴۴٪ پیښو په ثبتولو سره تر ټولو دزیاتو دغه شان پیښو او مرکزي زون د ۵٪پیښو په لرلو سره دترټولو کمو هغو شاهد پاتې شوي دي.

د حکومتي منسوبینو او موظفینو له خوا د ترسره شویو تاتریخوالو جیګه شمیره د اندیښنې وړه ده. حکومت قانوناْ او اصولاً خبریالانو ته د خوندي کاري چاپیریال په برابرولو مکلف دی.په داسې حال کې چې خپله حکومت دترټولو زیاتو تاوتریخجنو پیښو عامل وي نو باید دا ټمه ونه لرو چې خبریالانوته دې د خوندي کارچاپیریال حالت ښه توب وموموي.له بلې خوا دغه مسله د خبریالانو او حکومت ترمینځ د واټن رامنځته کیدو لامل هم شوې ده او دښېې حکومتوالي،دفساد راکمونې، دډموکراتیک بهیردپیاوړتیا او عامه ذهنونو د رهبرۍ په برخه کې یې دهمکارۍ لپاره خنډونه رامنځته کړي.

دحکومت او خبریالانو ترمینځ د واټن رامنځته کیدو دطالبانو او نورو ورانکارو کړیو دتبلیغاتو د لارمونډې لپاره زمینه برابره کړې ده چې دغه کار هم دحکومت او هم د رسنیو په تاوان دی. حکومتي منسوبین باید رسنیو ته د یوه پارټنر په سترګه وګوري او د یوې قوې په توګه وسره چلند وکړي ځکه چې رسنۍ د یوه ولسواک نظام د بنسټیزو رکنونو څخه شمیرل کیږي.

امنیتي ځواکونه لاهم دخبریالانو پروړاندې دپام وړ تاوتریخوالو مسوولین دي. دغه کار د خبریالانواو امنیتي ځواکونو ترمینځ دمسلکي همکاریو د کمیدو لامل ګرځي. د امنیتي ادارو منسوبین باید له خبریالانو سره دچلند څرنګوالی دخپل تعلیمي نصاب یوه برخه وګرځوي او هغوی دخبریالانو له حقونو او صلاحیتونو خبرکړي.

معلوماتو ته د لاسرسي قانون توشیح ،د رسنیزو سرغړونو او شکایتونو کمیسیون لغوه کیدل، له رسنیواو دبیان له ازادۍ نه د ملاتړ په برخه کې د ولسمشراو اجرایي رییس کلک دریځ د ۲۰۱۵میلادي کال د شپږو لومړیو میاشتو لاسته راوړنې بلل کیږي. خو حکومت باید خبریالانوته دخوندیتوب کاري چاپیریال ،دخبریالانو دکاري خوندیتوب اوحکومت او رسنیو ترمینځ د اړیکو دښه کیدو لپاره عملي تاباوې ونیسي. داهغه موضوع ګانې دي چې دملي وحدت حکوت دواړه مشرانو یې په اړه د ټاکنو پرمهال د یوه ژمنلیک په لاسلیکولو سره وعده کړې ده.

د پام وړ یوشمیر میرمنې چې په رسنیو کې کار کوي له ناسم او کله هم نامشروع چلند سره مخ کیږي.دغه ډول چلند میرمنې له سختۍ سره مخ کړې دي چې کله هم دغه راز ناسم چلند ددې لپاره کیږي څو هغوی جنسي سوی استفادې ته اړې کړای شي.دغه کار تر ډیره په ولایتونو کې لیدل کیږي. دغه چاره ددې لامل شوې چې په رسنیو په ځانګړې توګه

# سریزه

د ۲۰۱۴ کال په څیر ۲۰۱۵ کال هم په افغانستان کې له ننګونو سره مل دی، هغه هر اړخیزې ستونزې چې افغانستان ورسره مخامخ دی د حکومت او نړیوالې ټولنې پام یې ورزیات کړی دی په ځانګړې ډول په امنیتي برخه کې پر همدې بنسټ هغه تمه چې د بیان د ازادۍ لارویانو یې له حکومت نه د ژمنتیا هیله لرله او باید افغان حکومت هغه هیلې ترسره کړای وای ، ترسره نه شوې.

کارپوهان په دې باور دي چې دا ستونزې ددې سبب شوي چې امنیتي ستونزې او پر هغو څارنه کول د حکومت په لومړیتوبونو کې دي او حکومتي مشرانو ته دا فرصت په لاس نه دی ورغلی چې نورې چارې ترسره کړي.
سره له دې چې په دې پړاو کې د یو شمیر چارو د ترسره کیدو خبرونه ورکول شوي دي چې د بیان د ازادۍ او د خبریالانو د خوندیتوب برخه هم په کې ده.

معلوماتو ته د لاس رسي د قانون توشیح کیدل: د ژورنالیستیکو شکایتونو د سرغړونې د قانون د لمنځه تلل ، د ولسمشر ، لومړي مرستیال ، او اجرایه رئیس د رسنیو له ازادۍ نه ملاتړ ،د ۲۰۱۵ کال د لومړیو شپږو میاشتو لویې لاسته راوړنې دي..
د تیرې یوې لسیزې په اوږدو کې د رسنیزو لاسته راوړنو پر ساتنه د جمهور ریس او اجرایه ریس ټینګار او له خبریالانو او د رسنیو له مسؤلو مدیرانو سره د دوی څو ځلې کتنې مهمې لاسته راوړنې دي.

په تیرو شپږو میاشتو کې دا د ژورنالیستانو د خوندیتوب د ټولنې پنځم راپور دی چې د خبریالانو د خوندیتوب وضیعت په کې د ۲۰۱۵ کال له پیله د جون تر اخیري نیټې پورې څیړل شوی دی. همدارنګه دا ګذارش نورو موضوعاتو ته هم لکه د خبریالۍ مسلک ته چې د خبریالانو له خوندیتوب سره اړیکه لري په څنګزن ډول اشاره کوي چې د خبریالانو د خوندیتوب موضوع د هغوی د بیلابیلو اړخونو نه تر بحث لاندې ونیول شي او لوستونکی یې یو پراخه انځور ووینې.

باید یادونه وشي چې د ارقامو او شمیرو او پیښو ثبت او راجستر چې د خبریالانو او د رسنیو کارکوونکي یې قرباني شوي دي د کمیټې له طرزالعمل سره ترسره شوی دي دا په دې مانا ده چې کمیټې د خبریالانو او د رسنیو د کارکوونکو درست پیژند لره او د همغې په پام کې نیولو سره هغو پیښو ته چې د کمیټې په پیژند کې نه راتلې نه دي ثبت شوي.

# د ۱۳۹۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي پېښې

په ۲۰۱۵ کال په لومړنۍ نیمایي کې د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي پیښې د تیر په څیر وې په لومړنیو شپږو میاشتو کې افغان خبریالان د بیلابیلو ډلو له لوري د تاوتریخوالي له پیښو سره مخامخ وو .
سره له دې چې د ۲۰۱۵ کال د لومړیو شپږو میاشتو د پیښو ګراف د ۲۰۱۴ کال د لومړیو شپږو میاشتو پرتله پام وړ کم شوی اوس هم د خبریالانو پر وړاندې تاوتریخوالی د یوې جدي ستونزې په توګه موجود دی .

د ۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې کمیټې د خبریالانو پر وړاندې ۳۹ قضیې ثبت کړي دي دا شمیرې د ۲۰۱۴ کال د لومړیو شپږو میاشتو پرتله ۴۳٪ کمې دي، د ۲۰۱۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ۶۳٪ قضیې ثبت شوې وې ، په هغو میاشتو کې یو خبریال وژل شوی وو او څلور نور ټپیان وو، ۱۹ تنه نور وهل او ټکول شوي وو ، دوه تنه نیول شوي او ۱۳ تنه نور له سختو ګواښونو سره مخامخ وو . د رسنیو له ملاتړو ادارو سره د خبریالانو ښې اړیکې ، همدارنګه د رسنیو د ملاتړو ادارو ښه همغږي او له رسنیو او خبریالانو نه د افغان حکومت مشرانو ملاتړ، د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي په کمولو کې رول لوبولی دی .

د ۳۹ پیښو نه ۲۸ یې داسې دي چې خبریالان د حکومتي کارکوونکو له خوا ګواښل شوي چې ۷۱ ٪ د دغو پیښو مسؤلیت د حکومت پر غاړه دی . ۱۲٪ وسله وال طالبان مسؤل دي ، ۱۲٪ نور نا څرګند خلک دي او ۳٪ سیمه ییز زورواکان دي .د حکومتي چارواکو لخوا د تاوتریخوالي دغه سلنه یو لوړ ریکارډ دی ، چې په دغومره وخت کې چې دخوندیتوب ټولنه راپور چمتو کوي ثبت شوی دي . .

د راپور ورکوونې په دومره وخت کې لودیځ زون د تاوتریخوالي د ثبت د پیښو شاهد (۴۴٪)او مرکزي زون د پیښو د ټیټې سلنې لرونکی وو (۵٪) په دې پړاو کې د نورو وختونو پرتله حکومتي مسؤلین د تاوتریخوالي د زیاتو پیښو عاملین دي، طالبان اوس هم په ټیټ پړاو کې قرار لري.


د سیمه ییزو زورواکانو له لوري هم د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالو په پیښو کې هم د پام وړ کموالی راغلی دی.
د کمیټې د شننې له مخې د حکومت له لوري د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي د پیښو نه ښار او د خبریالانو د خوندیتوب په تړاو د قوانینو نه موجودیت ددې سبب کیږي چې دغه پیښې د حکومتي چاروکو له لوري د خبریالانو پر وړاندې په پیښو کې زیاتوالی راشي.

سره له دې چې افغان حکومت د خبریالانو او د بیان د ازادۍ ملاتړ کړی یو شمیر خلک داسې هم په دولت کې شته چې له دې ارزښتونو سره په ټکر کې واقع دي‌او ددغه ارزښتونو او د بیان د ازادۍ مخالف دي.
په همدې ډول د پارلمان یو شمیر غړیو د بیان د ازادۍ پر وړاندې د مخالفت دریځ خپل کړی دی او د بیان د ازادۍ د ترویج خلاف دي.


طالبان سره له دې چې د بیان د ازادۍ سرسختي مخالفین دي ددې لپاره چې د رسنیو له تحریم سره مخامخ نه شي له رسنیو سره یې له ټکره ځان ژغورلای دی.

د خبریالانو له لوري د طالبانو د فعالیتونو انځوریدل هغوی ته بنستیز ارزښت لري نو طالبانو له رسنیو سره د اړیکو ساتلو ارزښت درک کړی دی او نه غواړي چې له رسنیو سره ځانونه په جوال کې واچوي ، د کمیټې په باور همدا دلیل ددې سبب کیږي چې طالبان د تاوتریخوالي د کمو پیښو عاملین دي.

# دخبریالانو پروړاندې تاوتریخوالي شمیرې




لومړی ګراف : دخبریالانو پروړاندې دتاوتریخوالي عاملین




دویم ګراف : دخبریالانو پروړاندې تاوتریخوالی د زونونو له مخې

| شماره | زون | نوم او تخلص | رسنۍ | دنده | د تاوتریخوالي بڼه | عاملین | نیټه | ولایت | معلومات |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ختیځ | عاقل وقار | سپین غر راډیو | خبریال | وژل | ناپېژانده | ۲۰۱۵/۱/۱۶ | ننګرهار | عاقل وقار د ننګرهار ولایت په بټي کوټ ولسوالۍ کې د نا پېژانده وسله والو له لورې ووژل شو. د نوموړي د وژنې لامل معلوم نه دی. ویل کیږي نوموړي زیاتره ټولنیزې پراختیا او حقوقي مرستو اداري ته څېړنیز راپورونه برابرول. |
| ۲ | سوېل ختیځ | ابراهیم رحیمي | اشنا راډیو | خبریال | لفظي ګواښ | د والي ویاند | ۲۰۱۵/۱/۱۷ | خوست | ابراهیم رحیمي په خوست کې د امریکا غږ خبریال د جومات په دننه کې د یوه ملا امام د ژونې راپور برابر کړی و او د والي له ویاند څخه یې هم نقل قول اخیستی و، د راپور له خپرېدو وروسته نوموړی د والي د ویاند له لورې په دې خاطر وګواښل شو چې په راپور کې ولې نوموړی د والي ویاند شوولی، په داسې حال کې چې هغه اوس د والي مرستیال دی. |
| ۳ | سوېل ختیځ | عابد احمدزی | سمون راډیو | خبریال | د نیونې امر | ملي امنیت | ۲۰۱۵/۱/۱۷ | خوست | عابد احمدزی وایي چې ملي امنیت یې د راپورونو د خپرولو په خاطر د نیولو امر کړی دی. ملي امنیت وایي چې نوموړی له اسلامي حزب سره اړیکه لري، خو عابد دا خبره په بشپړه توګه ردوي. |
| ۴ | لوېدیځ | جمشید حکاک | آسیا ټلویزیون | پروډسر او خبریال | وهل، ټکول او ټپي کیدل | ملي پولیس سرتیري | ۲۰۱۵/۲/۶ | هرات | جمیشد حکاک د یوه راپور په جوړولو پسې روان و چې پولیسو یې له کوم دلیل پرته موټر درولی، د یوې لفظي شخړې وروسته نوموړی وهي او په پایله کې شاغلی حکاک په خوله او مخ ټپي کیږي. |
| ۵ | لوېدیځ | الیاس موسوی | استقلال تلویزیون | تخنیکي کارکونکی | وهل ټکول او بندي کول | ملي پولیس سرتیري | ۲۰۱۵/۲/۶ | هرات | الیاس موسوي له جمشید حکاک سره د پولیسو د بد چلند له جریان څخه د خپل مبایل په وسیله ویډیو اخلي چې د یوه پولیس سرتیري له لوري له فزیکي حملې سره مخ کیږي او څو شیبې د پولیسو په پوسته کې بندي ساتل کیږي. هرات |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٦ | مرکزی | سیف الله مفتون | پژواک | خبریال | ګواښل کيدل | طالبان | ۲۰۱۵/۳/۱ | غزنی | سیف الله مفتون د طالبانو له لورې د یوه جومات او قرانکریمونو د سوځولو په پیښه راپور برابر کړی و چې له هغه وروسته طالبانو نوموړی وګواښه چې باید دا خبر د پژواک اژانس له پاڼې څخه لیرې کړي، له هغه پرته دي د دوی هر ډول .غبرګون ته په تمه واوسې |
| ۷ | مرکزی | سیف الله مفتون | پژواک | خبریال | ګواښل کيدل | طالبان | ۲۰۱۵/۵/۱۸ | | سیف الله مفتون بل ځل د قره باغ د ولسوال فضل الرحمان نظري په اړه په ټولنیزه شبکه فیسبوک کې یو مطلب لیکلی و، چې وروسته تر هغې د پنځمې میاشتې په اتلسمه نیټه د ولسوال له لورې وګواښل شو. |
| ۸ | شمال ختیځ | حبیب الرحمن شیرزی | پژواک | خبریال | ګواښل کيدل | ناپیژاندي کسان | ۴/۳/۲۰۱۵ | بغلان | شیرزی وایي چې د کور ترڅنګ یې موټر ودراه او هغه وخت چې څو ګامه وړاندې ځي، ماین چې په اغلب ګومان مقناطسي و چاودنه کوي چې په پایله کې یې موټر زیانمن کیږي خو شخصاً ده ته زیان نه اوړي. نوموړی وایي چې د پیښې هدف دی و. |
| ۹ | شمال لوېدیځ | محمدرضاغفور | تلویزیون ملی | د نشراتو مدیر | د کامرې ماتول | پولیس سرتیري | ۶/۳/۲۰۱۵ | تخار | ښاغلی محمد رضا غفور وایي چې د تلویزیون د ودانۍ ترڅنګ د پولیسو موټر له یوه ملکي موټر سره ټکر وکړ، هغه وخت چې نوموړی د تصویر اخیستنې لپاره د پیښې ځای ته ولاړ پولیسو یې کامره ماته کړه، خو امنیه قومندانۍ وایي ددې پیښې عاملین پولیس نه، بلکې کامره د پیښې په ځای کې د را ټولو شویو خلکو د بیروبار په پایله کې ماته شوې ده. د رضا غفوري په خبره .تر اوسه دې پیښې پلټنه نه ده شوې |
| ۱۰ | شمال | آتیلا نوری | تلویزیون آریانا | خبریال | وهل ټکول | پولیس سرتیري | ۱۵-۳-۲۰۱۵ | سرپل | اتیلا نوري وایي چې نوموړي غوښتل د مبایل په وسیله د سرپل په ښار کې د عامه نظم د پولیسو له لورې د یوه خبریال د وهلو ویډیو واخلي، چې د یادو پولیسو له لورې ووهل شو. |
| ۱۱ | شمال | یعقوب مدنی | پژواک | خبریال | وهل ټکول | پولیس | ۱۵-۳-۲۰۱۵ | سرپل | یعقوب د سرپل ولایت له عامه نظم پولیسو سره د یوې لفظي شخړې وروسته وهل شوی دی او تر اوسه د یاد ولایت پولیسو ددې قضیې پلټنه نه ده کړې. |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۲ | سویل لوېدیځ | اسلم قانوني | نن اف ام راډیو | راډیو رییس | ټپي | بم چاودنه | ۲۰۱۵/۳/۲۳ | پکتیا | اسلم قانوني د نن راډیو مسوول په هغه ځان وژونکي برید کې ټپي شو چې د راډیو ترځنګ شوې وه. په یاده پیښه کې راډیو او شاوخوا کورونو ته یې درانه زیانونه واوښتل. |
| ۱۳ | سویل لوېدیځ | لطیف عاطف | نن اف ام راډیو | خبریال | ټپي | بم چاودنه | ۲۰۱۵/۳/۲۳ | پکتیا | لطیف عاطف د نن راډیو د دروازې مخې ته په یوه چاودنه کې ټپي شو. |
| ۱٤ | سویل لوېدیځ | احمد ولی سرحدی | آزاد خبریال | ازاد خبریال | ازاد خبریال | پولیس | ۲۰۱۵/۳/۲۸ | زابل | احمد ولي سرحدي د زابل د پولیسو له لورې د یوه ملکي وګړي د وهلو راپوور خپور کړی و. ښاغلی سرحدي وایي چې پولیسو نوموړی امنیه قومندانۍ ته ور وغوښت، هغه وخت چې قومندانۍ ته نیږدې کیږي پولیس یې له موټر څخه ښکته کوي او وهي یې. |
| ۱۵ | سویل ختیځ | نسیم لیوال | شمشاد تلویزیون | خبریال | د شمشاد په مرکزي دفتر فشار اچول | د پارلمان او ولایتي شورا وکیلان | ۲۰۱۵/۳/۲۹ | خوست | د شمشاد تلویزیون خبریال نسیم لیوال وایي چې په پارلمان کې د خوست د خلکو استازو او د دې ولایت د ولایتي شورا غړو د شمشاد راډیو تلویزون په مرکزي دفتر فشار راوړی چې نسیم لیوال باید ددوی هر ډول فعالیتونه خپاره کړي. که څه هم هیڅ ډول خبري ارزښت ونلري. |
| ۱٦ | لوېدیځ | امیراحمد مدقق | ملي تلویزیون | کامره مین | لفظي شخړه او توهین | د ملي پولیس سرتیري | ۲۰۱۵-۰۳-۲۹ | غور | امیر احمدي چې له یوې ترافیکي پیښې څخه یې انځور اخیست د پولیسو له لورې توهین شوی او لفظي شخړه یې ورسره کړې. یاده ترافیکي پیښه د ملي پولیسو د یوه رینجر موټر او یوه ملکي موټر ترمنځ شوې وه. |
| ۱۷ | سویل ختیځ | بسم الله ارمان | شمشاد تلویزیون | خبریال | تر فشار لاندې راوستل | د ولایتي شورا استازی جانمیر ځاځی | ۲۰۱۵/۳/۳۰ | خوست | بسم الله وایي چې جانمیر ځاځي په تلیفوني اړیکه کې په نوموړي فشار راوړی چې د ولایتي شورا په ګټه راپورونه خپاره کړي او نوموړی خورا ښه کس معرفي کړي. |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۸ | سویل ختیځ | محمدهارون | پژواک | خبریال | ځارنوالي ته د پیژندلو گواښ | د ولایتي شورا رییس | ۲۰۱۵/۳/۳۱ | خوست | محمد هارون وایي چې د ولایتي شورا رییس نوموړي ته په دې خاطر ځارنوالۍ ته د ورپیژندلو گواښ کړی چې د ده په قول یې ځینې خبرې په راپور کې راوړې وې. خو د ولایتي شورا رییس وایي چې نوموړي دا خبرې نه دي کړي، په داسې حال کې چې ښاغلی هارون ادعا کوي چې نوموړی یادې خبرې په صوتي بڼه له ځان سره لري. |
| ۱۹ | سویل ختیځ | نوراجان بهیر | کلید راډیو | خبریال | گواښل | د پارلمان او ولایتي شورا وکیلان | ۲۰۱۵/۳/۳۱ | خوست | د کلید راډیو خبریال نورا جان بهیر وایي چې په پارلمان کې د خوست د خلکو استازو او د ولایتي شورا غړو نوموړی گواښلی چې که د فساد او په یاد ولایت کې د وروستیو لاریونونو راپورونه خپاره نه کړي، په یاد ولایت کې به فعالې رسنۍ وسوځوي چې کلید راډیو یې هم په ډل کې راځي. |
| ۲۰ | شمال | همایون همنوا | لحظه راډیو | خبریال | ټپي | ځانمرگی برید | ۲۰۱٤/٤/۹ | بلخ | همایون همنوا په بلخ ولایت کې د ځارنوالۍ پروډانۍ د برید په پیښه کې د انځور اخیستلو پر وخت ټپي شو. |
| ۲۱ | لوېدیځ | خلیل امیري | فریاد راډیو تلویزیون | مسوول مدیر | وهل ټکول او توهین | ملي پولیس، اردو او ملي امنیت | ۲۰۱۵-۰٤-۱٤ | هرات | خلیل امیري د هرات د ورځې د جشن مراسمو ته د ننوتلو په حال کې د خلکو په کتار کې د پولیسو او ملي امنیت د سرتیرو له لوري له فزیکي برید ، وهلو او توهین سره مخ شو. |
| ۲۲ | لوېدیځ | خلیل نورزی | امریکا غږ | خبریال | فزیکي حمله، توهین او سپکول | ملي پولیس، اردو او ملي امنیت | ۲۰۱۵-۰٤-۱٤ | هرات | خلیل نورزي د هرات جشن پروگرام ته د ننوتلو په حال کې د پولیسو او ملي امنیت له لورې توهین او وزورول شوی. |
| ۲۳ | لویدیځ | نقیبه بارکزی | هرات تلویزیون | خبریاله | فزیکي حمله، توهین او سپکول | ملي پولیس، اردو او ملي امنیت | ۲۰۱۵-۰٤-۱٤ | هرات | نقیبه بارکزۍ د هرات جشن پروگرام ته د ننوتلو په حال کې د پولیسو او ملي امنیت له لوري توهین او زورول شوې ده. |
| ۲٤ | لوېدیځ | طارق امیری | دنیا راډیو | خبریال | فزیکي حمله، توهین او سپکول | ملي پولیس، اردو او ملي امنیت | ۲۰۱۵-۰٤-۱٤ | هرات | طارق امیري د هرات جشن پروگرام ته د ننوتلو په حال کې د پولیسو او امنیت ملي له لورې توهین او زورول شوی دی. |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۵ | لوېديځ | حسينا – – عظيمی | ميترا تلويزيون | خبرياله | فزيکي حمله، توهين او سپکول | ملي پوليس، اردو او ملي امنيت | ۲۰۱۵-۰٤-۱٤ | هرات | حسينا عظيمي د هرات جشن پروګرام ته د ننوتلو په حال کې د پوليسو او امنيت ملي له لورې توهين او زورول شوې ده. |
| ۲٦ | لوېديځ | عاطفه غفوری | کليد راډيو | خبريال | فزيکي حمله، توهين او سپکول | ملي پوليس، اردو او ملي امنيت | ۲۰۱۵-۰٤-۱٤ | هرات | عاطفه غفوري د هرات جشن پروګرام ته د ننوتلو په حال کې د پوليسو او ملي امنيت له لورې توهين او زورول شوې ده. |
| ۲۷ | لوېديځ | حبيب الله حبيبی | هرات تلويزيون | خبريال | فزيکي حمله، توهين او سپکول | ملي پوليس، اردو او ملي امنيت | ۲۰۱۵-۰٤-۱٤ | هرات | حبيب الله حبيبي د هرات جشن پروګرام ته د ننوتلو په حال کې د پوليسو او ملي امنيت له لورې توهين او ازار شوی دی. |
| ۲۸ | لوېديځ | شفيع حيدري | شفيع حيدري | خبريال | فزيکي حمله، توهين او سپکول | ملي پوليس، اردو او ملي امنيت | ۲۰۱۵-۰٤-۱٤ | هرات | شفيع وحيدي د هرات جشن پروګرام ته د ننوتلو په حال کې د پوليسو او ملي امنيت له لورې توهين او زورول شوی دی. |
| ۲۹ | لوېديځ | محمد رفيع سينا | زحل راډيو | خبريال | فزيکي حمله، توهين او سپکول | ملي پوليس، اردو او ملي امنيت | ۲۰۱۵-۰٤-۱٤ | هرات | محمد رفيع د هرات جشن پروګرام ته د ننوتلو په حال کې د پوليسو او ملي امنيت له لورې توهين او زورول شوی دی. |
| ۳۰ | لوېديځ | نذيراحمد شهرزاد | راهبرد اوونيزه | مسوول مدير | تليفوني ګواښ | ناپيژانده کسان | ۲۰۱۵-۰٤-۲۷ | هرات | نذير احمد په راهبرد اوونيزه کې د يوې ليکنې تر خپرېدو وروسته د ناپيژانده کس له لورې د تليفون له لارې ګواښل شوی او د خپرونې مسوول يې په کفر ويلو او د ديني ارزښتونو ضد ليکنو په خپراوي تورن کړ او ګواښ کوونکي کس د خپرونې د بندېدو غوښتنه وکړه. |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٣١ | لوېدیځ | احمد نصیری | چکاد تلویزیون | مسوول مدیر | د شبکې د برېښنا پرې کول، د تلویزیون د تړلو او سیمې پرېښودلو ګواښ | د حاجي وحید په نوم زورواکی | ۲۰۱۵-۰٤-۲۸ | هرات | حاجي وحید لومړی د چکاد شبکې برېښنا پرې کړه او وروسته یې د سیمه ییزو او امنیتي مسوولینو په مخ کې د تلویزیون په مسوولینو تورونه ولګول او له سیمې څخه یې د تلویزیون د تلو او د ځای د بدلون غوښتنه وکړه. |
| ٣٢ | شمال ختیځ | مغفرت شاه آذری | سیمه ییز تلویزیون | کارکونکی | ټپي | ناپیژانده کسان | ۲۰۱۵/۵/۱۰ | کندز | مغفرت شاه چې کله د کار له ځای څخه د کور په لور روان و، د ناپیژنداه کس له لورې ټپي شوی دی. د دې پیښې لامل لا روښانه نه دی. |
| ٣٣ | مرکز | کلیوال نیازی | یک تلویزیون | کامره مین | وهل ټکول | کابل پولیس | ۲۰۱۵/۵/۲۰ | کابل | کلیوال نیازی د ځانګړې برید ځای ته نیږدې د عدلیې وزارت په پارکینګ کې د ویډیو اخیستلو پرمهال د پولیسو له لورې ووهل شو او د ویډیو اخیستلو کامره یې هم ور ماته کړه. |
| ٣٤ | لوېدیځ | حسن حکیمی | پژواک اژانس | خبریال | د ښارنوالۍ له لورې احضار | دغور ښارنوالۍ | ۲۰۱۵-۰۵-۲۷ | غور | حسن له هغه وروسته د غور ولایت ښارنوالۍ ریاست په رسمي توګه احضار کړ چې د یاد ولایت د عدلي او قضایي دستګاه په ضد یې په ټولنیزو او یو شمیر نورو رسنیو کې ځینې راپورونه او لیکنې خپرې کړې. |
| ٣٥ | شمال ختیځ | شیرمحمد جهیش | تنویر تلویزیون | د تلویزیون مسوول | د مرګ ګواښ | په ولسي جرګه کې د بغلان د خلکو استازي عاشق الله وفا له لوري | ۲۰۱۵-۰۵-۲۷ | ولایت بغلان | شیر محمد جهیش د ناڅرګند لامل په خاطر د عاشق الله وفا له لورې په مرګ وګواښل شو او وروسته چې موضوع غټیږي نوموړی له ښاغلي جهیش څخه بخښنه غواړي. |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳٦ | لوېدیځ | غلام رسول حبیب زاده | هرات راډیو | مدیر | وهل ټکول او غلا | ناپېژانده کسان | ۲۰۱۵/۵/۲۸ | هرات | ښاغلی حبیبزاده له کاري دفتر څخه د خُسر کور ته په لاره و چې په فلکه واټ کې یې دوو تنو موټر سایکل سپرو موټر درولی او د سل زره افغانیو په شاوخوا کې پیسې، مبایل او ځینې نور وسایل یې ورڅخه اخیستي. قضیه د هرات ښار د پولیسو دویمې حوزې ته وړاندې شوه او د هرات امنیه قومندان مجید روزي د پیښې په تړاو د یوه تن له نیولو او د یاد ژورنالیست د غلا شویو وسایلو د ترلاسه کولو خبر ورکړ. |
| ۳۷ | سوېل ختیځ | عاشق الله اخلاصیار | ملي راډیو تلویزیون | مسوول | وهل ټکول | سرحدي پولیس | ۲۰۱۵-۰٦-۰۳ | پکتیا | ښاغلی اخلاصیار د پکتیا نوي والي معرفي مراسیمو ته روان وو، نوموړی په دې خاطر د سرحدي پولیسو له لورې وهل او ټکول شوی چې ولې یې د پولیسو له موټر څخه موټر مخې ته کړی. د مراسمو په جریان کې د سرحدي پولیسو قومندان له هغه څخه بخښنه غوښتې. |
| ۳۸ | سوېل ختیځ | عبدالمالک همرنګ | ملي راډیو تلویزیون | خبریال | وهل ټکول | سرحدي پولیس | ۲۰۱۵-۰٦-۰۳ | پکتیا | ښاغلی همرنګ هم د پکتیا نوي والي معرفي مراسیمو ته روان وو، نوموړی په دې خاطر د سرحدي پولیسو له لورې وهل او ټکول شوی چې ولې یې د پولیسو له موټر څخه موټر مخې ته کړی. د مراسمو په جریان کې د سرحدي پولیسو قومندان له نوموړي څخه بخښنه غوښتې. |
| ۳۹ | مرکزی | اسدالله جلالزی | بي بي سي | خبریال | وهل ټکول | ملي امنیت کارکونکی | ۲۰۱۵/٦/۲۱ | غزنی | ښاغلی جلالزی خپل کاري دفتر ته په لاره وه چې د ملي امنیت یو سرتیري دی په دې خاطر چې ولې یې تلاشي نه ده ورکړې، وهلی ټکولی. وروسته د افغان خبریالانو د کمیټې په هڅو او د ولسمشرۍ ماڼۍ په هدایت د غزني ملي امنیت ریاست له ښاغلي جلالزي څخه بخښنه غوښتې او د یاد سرتیري دنده یې ځنډولې ده. |

د ۲۰۱۴ زیږدیز کال په لومړیو شپږ میاشتو کې دافغان خبریالانود خوندیتوب کمیټې د خبریالانو پروړاندې د تاوتریخوالي ۶۸ قضیې ثبت کړې وې خو د ۲۰۱۵ز په لومړیو شپږو میاشتو کې د دې کمیټې له لوري د تاوتریخوالي ۳۹ پیښې ثبت شوې دي.
د ۲۰۱۴ز لومړیو شپږو میاشتو ته په کتو د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي په پیښو کې ۴۲.۶۴ سلنه کموالی راغلی دی.

## د کمیټې عدالت غوښتنه

د ژورنالیستانو د خوندیتوب کمیټې تل هڅه کړې چې د خبریالانو د خوندیتوب ستونزې ته لاس رسی پیدا کړي او په هر اړخیز ډول راولاړې شوې ستونزې حل کړي، له دې جملې نه کولای شو چې دوه پیښې یادې کړو.

په زابل کې د یو خبریال د وهلو ټکولو پیښه چې د پولیسو یو لوړ پوړي منصبدار وهلی وو او د هغه پر وړاندې یې یوه دسیسه جوړه کړې وه، کمیټې دا مسله په بیړه د کورنیو چارو له وزارت سره شریکه کړه چې د پرلپسې بحثونو په پایله کې وزارت پریکړه وکړه او هغه افسر یې له دندې ګوښه کړ او خبریال بیرته خپل کور او دندې ته لاړ.

همدارنګه په غزني ولایت کې د ملي امنیت یو کارکوونکي یو خبریال وهلی و، خبریال موضوع له کمیټې سره شریکه کړه، کمیټې په بیړه اقدام وکړ او له مسؤلو چاراوکو سره تر بیا بیا اړیکو ټینګولو وروسته موضوع د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره تر لوړو پوړو چاراوکو ورسیده ،د ولس مشر دفتر ته ددې موضوع د خبر په رسیدو سره ولسمشر غبرګون وښوده او د خوندیتوب له ټولنې یې د موضوع جزیات وغوښتل د معلوماتو تر بشپړولو وروسته ولسمشر ملي امنیت اداري ته حکم وکړ چې د کارکوونکي دنده وځنډوي او پوښتنې ګرویږنې ترې پیل کړي.

## د ملي وحدت په حکومت کې د بیان د ازادۍ او د خبریالانو وضعیت او پر وړاندې یې د مشرانو ژمنې:

هماغسې چې نوی حکومت منځته راغی په لومړیو ورځو کې یې یو شمیر قدمونه ددې لپاره اوچت کړل چې د خلکو پام ورواوړي، نو لومړی اقدام معلوماتو ته د لاس رسي قانون توشیح وه چې ولسمشر توشیح کړ هغه قانون چې دوه کاله په عدلي وزارت، وزیرانو شورا او پارلمان کې لاس په لاس ګرځیده . د بشر حقوقو او د مرستندویه ټولنو له هلوځلو وروسته تعدیل او تصویب شو چې د ولسمشر له خوا د خپل کار په لومړیو ورځو کې توشیح شو، د جمهور ریس دې اقدام خبریالان هیله من کړل.

ددې په دوام د ولسمشر لومړي مرستیال له خبریالانو او د رسنیوله مسؤلینو سره د لیدو کتو پر مهال لوی څارنوالۍ ته سپارښتنه وکړه چې په تیرو دیارلسو کلونو کې د خبریالانو د مرګ ژوبلې پر هغو دوسیو غور وکړي چې وړاندې پرې نه وو شوی او پایلې یې اعلان کړي. دې اقدام هم خبریالان او د بشر حقونو ملاتړې ټولنې خوشاله کړې ښاغلي دوستم د خبریالانو پر وړاندې د جرم کوونکو د معافیت د ختمیدو د نړیوالې ورځې په مناسبت خبریالانو ته دا ژمنه ورکړه خو له بده مرغه د لومړي مرستیال پریکړه تر اوسه نه ده پلي شوې.

د یادونې وړ ده چې د خبریالانو د ملاتړو او د بشر حقونو د ټولنو لوی شکایت هم همدا دی چې هغو خبریالانو چې په تیرو څو کلونو کې یې د بیان د ازادۍ د تحقق لپاره سرونه قربان کړل مګر دوی حکومتي چاراوکو هیر کړل او د دوی کورنیو ته یې هیڅ پام ونه کړ چې په تصادفي ډول یې هم د هغو خلکو پوښتنه ونه کړه چې د بیان ازادۍ د خوندیتوب لپاره یې خپل سرونه قربان کړل..

ددې ټولو بې تفاوتیو سره سره د ژورنالیستانو پر دوسیو هم غور نه دی شوی او د څارنوالۍ په تاخچو کې بندې پرتې دي.
د افغان حکومت اجرایه ریاست هم له افغان خبریالانو سره د لیدو کتو پر مهال خپله ژمنه نوې کړه چې د خبریالانو له حقونو نه به دفاع کوي‌او د تیرو ۱۳ کلونو دا لویه لاسته راوړنه به ساتي ، اجرایه رییس د افغان خبریالانو په ملي کنفرانس کې چې رسنۍ او د بدلون لسیزه نوم ورکول شوی وو ګډون وکړ د خپلو خبرو پرمهال یې د رسنیو ستونزې یادې کړې او د حل ژمنه یې وکړه..
اجرایه ریس دارنګه ژمنه وکړه چې د رسنیو د سرغړونې غیر قانوني کمیسیون به لغوه کړي او مطبوعاتو د لاس رسي حق به تامین کړي..
مګر د حکومت تر جوړیدو څو میاشتې وروسته، د امنیت شورا دفتر یو مکتوب ولایتي ادارو ته ولیږه چې په هغه برخو کې چې د دوی د دندې اړونده نه وي له خبریالانو سره له خبرو کولو ډډه وکړي، دا مکتوب د ولایتي ادارو لپاره یوه ښه لاسوند دی او په زیاتو برخو کې هغوی خبریالانو ته معلومات نه ورکوي چې د کمیټې د زیاتو هلو ځلو په پایله کې تر یوه حده دا ستونزه حل شوې ده..

## هغه څه چې په دې برخه کې تر اوسه شوي دي

له ټولو ژمنو نه چې د نوي حکومت له لوري تر اوسه شوي دي تر اوسه یواځې د رسینو د سرغړونې کمیسیون له منځه تلو ژمنې عملي بڼه غوره کړیده، د حکومت په هماغه لومړیو ورځو کې امریکایي خبریال لیتو روزنبرګ ته اجازه ورکول شوه چې هیواد ته لاړ شي هغه د ولسمشرۍ د ټاکنو پر مهال د لوی څارنوالۍ لخوا ممنوع الخروج او وروسته ممنوع الدخول اعلان شو، همدارنګه بله لاسته راوړنه چې شوې هغه معلوماتو ته د لاس رسي قانون دی چې توشیح شوی دی..
مګر په حکومت کې ټیټ پوړې چارواکي، چې د خبریالانو او د دوی د ملاتړ ټولنو پر وړاندې له ناسم چلند نه کار اخلي، یو شمیر پر دې باور دي چې په دولتي ادارو کې د پراخه فساد شته والی ددې لامل شوی چې مسؤل اشخاص حقایق پټ کړي له خبریالانو سره ناسم چلند کوي چې تر ډیره ځایه دواړه نظریې د مسؤلینو په برخه کې ومنل شي. یو له هغو عواملو نه چې حکومتي مشران یې په دې برخه کې قدم اخیستو ته هڅولي دا دی چې د ولسمشرۍ د ټاکنو پایلو تر اعلان وروسته دواړو مخکښو نوماندانو چې اوس یې ګډ حکومت جوړ کړی په (۱۲) ماده یې هوکړه لیک امضا ده چې دواړو لاسلیک کړی دی.

## په افغانستان کې د خبریالانو د کار د کیفیت ټیټوالی او لاملونه یې

کیبلي تلویزون او د سپوږمۍ پرلټ (رسیور)
په افغانستان کې زیات لیدونکي لري ددغو شبکو شمیره سلګونو ته رسیږي، او زیات خلک تري ګټه پورته کوي او دلیل یې دا دی چې داخلي رسنۍ نه دي توانیدلي د لیدونکو او اوریدونکو قناعت حاصل کړي او دا ښایي بیلابیل لاملونه ولري.
.

## اقتصادي کمزوري:

اقتصادي مشکلات پر کاري کیفیت لومړنی اغیز لرونکی فکتور دی چې کورنۍ رسنۍ ورسره مخامخ دي، په واقیعت کې دا دواړه سره مخامخ اړیکه لري، د رسنۍ اقتصادي ستونزې کاري کیفیت ټیټوي چې موږ یې شاهدان یو..
د رسنیو د کاري بهبود لپاره اقتصادي ملاتړ تر ټولو زیات ضروري دی څرنګه چې د نړیوالې ټولنې مرستې کمې شوي دي چارې یې هم مخامخ د رسنیو په پروګرامونو او کاري کیفیت اغیز کړي دي، په تیرو دوو کلونو کې زیاترو رسنیو خپل کارکوونکي ډیر کم کړي دي او یا یې د هغو میاشتنۍ تنخواوې کمې کړي دي چې دې چارې هم د رسنیو په کاري کیفیت منفي اغیز کړی دی..

دبیلګې په ډول د یو ژورنالیست کار ترسره کول چې یوه ډله ژورنالیستان یې باید وکړي په یوآځې ځان ترسره شوی دی، زیاتره خبریالان هممهاله ، فلم اخلي، متن لیکي ایډیټ کوي چې مسلک یې نه وي او کار یې هم ډیر تخصصي نه وي..
همدارنګه د اقتصادي کمزورۍ له لامله رسنیو د کمو پیسو په بدل کې غیر مسلکي خلک پر دندو ګمارلي دي، هغه څوک چې نه مسلکي پوهه لري او نه هم په دې برخه کې ځانګړي استعداد، فقط د کمو پیسو په مقابل او یاوړیا ګمارل شوي دي، دا جوته ده چې د کار پایله به یې له یو نامسلکي راپور پرته چې ټیټ کیفیت ولري بل څه نه وي..
(روزنیزه کمزوري) د ژورنالیزم روزنیز نظام زوړ او پخوانی دی، د ژورنالیزم پوهنځیو زده کړې د څو لسیزو وړاندې هماغه زده کړې دي چې په تیورۍ راڅرخي، په داسې حال کې چې د ژورنالیزم مسلک یوې تخینکي روزنې ته اړتیا لري، ژورنالیزم د هرې ورځې په تیریدو سره نوی کیږي او د مینه والو غوښتنې ته یې پام کیږي . مګر په افغانستان کې هماغسې زوړ ملا او زړې تراویح دي له همدې امله داخلي رسنۍ د بهرنیو پر وړاندې د سیالۍ له ډګره غورزیدلي دي.
دا باید له یاده ونه باسو چې ژورنالیزم ، له پوهې او هنر نه جوړ شوی دی ، له دې دواړو نه دیوه په نشتوالي کې ، باید دیوه ښه څرنګوالي ژورنالیزم په تمه نه اوسو .کیدای شي یو څوک ددې برخې ځانګیزه پوهه ولري ، خو چې په هنري برخه کې یې وړتیا نه وي نو کیفیت به یې ډیر ټیټ وي ..

**درسنیو په منځ کې دسیالۍ دفضا نشتوالی :**

دا کار ددې لامل شوی چې رسنۍ د ښه څرنګوالي د راپور ورکولو هڅه ونه کړي ، زیاتره رسنۍ په یوه دودیزه بڼه راپور لیکې او فیچر لیکلو او مستندو فلمونو په جوړولو کې هیڅ هڅه نه کوي .دخبر یو تعریف چې وړاندې کیږی دا دی چې : خبر دهغه څه په اړه معلومات ورکول دي چې یو څوک په یو ځای کې نه غواړي نور هغه څه واوری ، له دې زیات هغه څه چې خپریږي له تبلیغاتو پرته نور څه نه دي .

که دا تعریف دخبریال دکار دښه څرنګوالي لپاره ریښتینی وګڼو ، دخبریالانو ، دامنیت نه خوندیتوب کولی شو ، د کار دټیټ څرنګولي دلامل په توګه یاد کړو . خبریالان د ځاني خوندیتوب دنشتوالي په برخه کې ، په ډیرو برخو کې خود سانسوري کوي او په پایله کې له پورتني تعریف سره سم له تبلیغاتو پرته نور څه نه لري . دبیلګې په توګه ، څیړنیز ژورنالیزم ، چې دژورنالیزم بنسټ جوړوي ، ترو اوسه یې په افغانستان کې ځای نه دی پیدا کړی ، او ډیرې لږې رسنۍ په دا وړ ژورنالیزم کې کار کوي . نو یا رسنۍ ددا ډول راپور ونو دلیکلو توان نه لري او یا یې دخپرولو جرات نه لري .

تړلې رسنۍ : یو شمیر هغه رسنۍ چې دسیاسي موخو له پاره را منځته شوي دي زیاتې دي ، کله چې یوه رسنۍ په یو چا پورې تړلې وي نو په طبیعي ډول به دهماغه ډلې او شخص ، دګټو له پاره کار کوي . دژورنالیزم ، ارزښت په بې پریوالي کې نغښتی دی ، کله چې دا اصل تر پښو لاندې کیږي نو کله هم دښه کیفیت دعوه نه شي کیدای .

دا ډول رسنۍ ددې پر ځای چې خلکو ته ځواب ووایي ، درسنۍ مرسته کوونکي ، خپلې ډلې او ګوند ته ځواب ویوونکې وي. دا چاره هم درسنۍ کاري کیفیت ټیټوي او درسنۍ رسالت تر پوښتنې لاندې راولي یادو ټکو ته په پام سره نه شو کولی چې په لنډ مهال کې، د ښه څرنګوالي تمه وکړو . نو ددې چارې سموالی وخت او ځواکمنه اراده غواړي .

**دښځینه خبریالانو پروړاندې جنسي تبعیض او محدودیتونه**

جنسي تبعیض او دمیرمنو زورونه او تنګول په افغانستان کې یوه ټکان ورکونکې ښکارنده او یو داسې عمل دی، چې د ټولو ټولنیزو او د دیني اوکلتوري ارزښتونو په خلاف ده. خو له بده مرغه چې دغه موضوع ددغې جغرافیې د خلکو په منځ کې اوس په یوه ناسم فرهنګ باندې بدله شوې ده.

دغه شومه پدیده ،چې له دې وړاندې په کوڅو او بازار کې دود وه متاسفانه ،چې رسمي دفترونو ته یې هم لاره موندلې ده ، چې پدې لیست کې بدبختانه رسنیزې اداري هم شاملې دي.

په ټولو ولایتونو کې ښځینه خبریالانې له دغې ښکارندې څخه ډیرې اغیزمنې او پدې برخه کې له سختو ستونزو سره مخامخ دي. موږ د بیلګې په ډول د هیواد دوو لویو ښارونو ته سفر کړی ، چې ډیرې رسنۍ لري او ښځینه خبریالانې هم د نورو ولایتونو سره په پرتله ییز ډول زیات فعالیت کوي او د بلخ او هرات په ولایتونو کې مو د ښځینه خبریالانو ستونزې را سپړلې دي ، چې په تاسف سره په دې برخه کې ددوی ستونزې له هغه پورته وې، چې موږ یې په اړه فکر کاوه.
د ښځینه خبریالانو ستونزې په کاري ساحه کې له تبعیضه رانیولې بیا تر جنسي ځورونې او د ښځنه او نارینه وو د فعالیتونو ترمنځ د عدالت د نشتون پورې رسیږي.

هرات د میرمنو د فعالیتونو په ځانګړي ډول د خبریالانو لپاره په مختلفو ساحو کې ستونزې جوړونکی وه . په رسنیو کې د ښځینه کارکونکو کاري حجم د نارینه وو په پرتله زیات و خو امتیازات یې د نارینه وو په پرتله کم و.
مهمه او د پام وړ ستونزه چې په هرات کې دښځینه خبریالانو پټ او ننګونکی ګواښ دی په ځینو رسنیزو ادارو کې د اخلاقي فساد خوا ته د تمایل دی او ډیری ښځینه خبریالانې او نجونې چې په دې ولایت کې دخبریالۍ په ډګر کې کار کوي شکایتونه یې پدې برخه کې زیات و.
،هغوی وایي، چې هرات او بلخ د کاري خوندیتوب له پلوه نورو ولایتونو سره په تضاد کې دي پدې معنی، چې په نورو ولایتونو کې ښځینه خبریالانې له ډیرو ستونزو سره لاس او ګریوان دي خو پدې دوو ولایتونو کې د یو شمېر رسنیزو نهادونو او دولتي رسنیو مسوولین کوشش کوي، چې له میرمنو څخه ناوړه ګټه پورته کړي.

لـه دغـو ښـځينه خبريالانوڅخـه يـوې يـې چـې د نـوم لـه ښـودلو څخـه ډډه کـوي  مـوږ تـه وويـل ، پـه يـوه خصوصي رسنـۍ کـې د فساد د شـتون لـه املـه مجبـوره شـوه ، چـې خپلـه دنـده پريـږدي. هغـه زياتـوي، جلکـۍ ، چـې يـو ځـل پـه رسـنيو کـې کار وکـړي کـه چـيرې رسـنۍ پريـږدي يـا داچـې پـه يـوه بلـه رسـنۍ کـې فعاليـت وکـړي پـه همغـه لومړيـو کـې پـه واضـح او مسـتقيم ډول ورڅخـه جنسـي توقـع کيـږي. کـه چـيرې دا غوښـتنه رد شي نـو پـه هغـه اداره کـې بيـا دهغـې لپـاره دنـده نشـته او علـت يـې هـم واضـح وايـي ،چـې تـا پـه هغـه رسـنۍ کـې کار کاوه حتـماً دې لـه مسـوولينو سره اړيکـه درلـوده او پـدې ځـاى کـې يـې بايـد لـه مـوږ سره هـم ولـرې.

يـوه بلـه جينـۍ لـدې کبلـه پـه کـور کيناسـته  او لـه رسـنيزو اداروڅخـه ځنـګ تـه شـوه، چـې پـه هغـه رسـنۍ کـې، چـې نومـوړې پکـې کار کاوه اخلاقـي فسـاد شـتون درلـود.
هغـه وايـي، «ددې پـه خاطـر، چـې  جنسـي نـاوړه اسـتفاده رانـه وشي دې تـه ترجيـح ورکـوم چـې پـه کـور کينـم او هغـه اسـتعداد، چـې دخبريالـۍ پـه برخـه کـې يـې لـرم هغـه پـټ وسـاتم.»
پـه همـدې حـال کـې د خلکـو د راډيـو مسـووله  او  پـه هـرات کـې د بـشري حقونـو فعالـه خالـده خرسـند پـه يـو شـمېر رسـنيو کـې د اخلاقـي فسـاد د شـتون د تايـد ترڅنـګ وايـي ، پـه رسـنيو کـې لـه ميرمنـو د يـوې وسـيلې پـه توګـه اسـتفاده کيـږي.
اغلـې خرسـند زياتـوي، پـه رسـنيو کـې د ميرمنـو شـتون حقيقـي شـتون نـدی او لـه اکثـرو يـې د رسـنيو د ښايسـته والي لپـاره اسـتفاده کـې او مهـم پسـتونه او مديريـت دوی تـه نـه ورکـول کيـږي چـې دا ددې باعـث ګرځيدلـې، چـې ميرمنـې پرمختـګ و نـه کـړي.
هغـه وايـي، پـه ډيـرو مـواردو کـې لـه ميرمنـو پـه اداراتـو کـې جنـسي اسـتفاده کيـږي او ميرمنـې دې تـه اړ کـوي  چـې د کاري امنيـت پـه خاطـر لـه لوړپـوړو کسـانو سره نامـشروع اړيکـې وسـاتي.

پـه هـرات کـې لوبغـاړې هـم لـه دې امـر څخـه مسـتثنی نـه دي، دهغـوی وضيعـت د ښـځينه خبريالانـو څخـه بدتـر دی. يـوه لوبغـاړې ، چـې نـه يـې غوښـتل نـوم يـې واخيسـتل شي وايـي، پـه سـينما او تياتـر کـې پـه مسـتقيم ډول لـه ميرمنـو توقـع کيـږي او کـه چـيرې يـې غوښـتنې تـه مثبـت ځـواب اونـه ويـل شي هغـې تـه رول نـه ورکـول کيـږي او همدارنګـه بدنامـي هـم ورپـورې تـړل کيـږي ، چـې ددې کارونـو ډيـری عاملـين هـم د د مسـوولين دي. پـه هـرات کـې ميرمنـې د باندنيـو خلکـو پـه نسـبت د خپلـو همکارانـو لـه لـوري  زياتـې لـه ګـواښ سره مـخ کيـږي .

دا په داسې حال کې ده ، چې دهرات تياتر اوه رسمي پسته لري او اوه واړه پستونه نارينه وو ته اختصاص شوي دي.
لـه بـل لـوري پـه بلـخ  ولايـت کـې ښـځينه خبريالانـې د کاري خونديتـوب لـه پلـوه خـورا بـد حالـت لـري. زورواکـي ، مالـکان او د رسـنيو مسـوولين پـدې ډول فسـاد کـې ډيـر لاس لـري. خـو هېڅـوک هـم د ميرمنـو او نجونـو غـږ نـه اوري، کومـې چـې لـه دغـو سـتونزو سره لاس او ګريـوان دي. ځکـه چـې ډيـری خلـک چـې فسـاد کـې ښـکيل دي د لويـو حکومتـي کسـانو ملاتړلـه ځـان سره لـري او يـا هـم د واليانـو د پلويانـو لـه لـوري. پـه همـدې دليـل مجبـورې دي چـې خپـل غږونـه پورتـه نـه کـړي.
يـوه ميرمـن ، چـې پـه يـوه خصـوصي ټلويزيـون کـې دنـده لـري او نـه غـواړي چـې نـوم يـې واخيسـتل شي وايـي، چـې لـه ځينـو کارکونکـو او ښـځينه خبريالانـو څخـه پـه يوشـمېر رسـنيو کـې نـاوړه ګټـه پورتـه کـول پـه يـوه دود بـدل شـوی دی او کلـه ، چـې زه لـه دې مسـلې خـبره شـوم او نامـشروع غوښـتنو تـه مـې نـه وويـل اول ځـل يـې زمـا تنخـوا راکمـه کـړه او وروسـته يـې زمـا لپـاره کاري سـاحه دومـره تنګـه کـړه  چـې د دنـدې پـه پريښـودلو مجبـوره شـوم خـو د سـتونزو او زمـوږ د سـنتي ټولنـې پـه اسـاس او داچـې زمـا نـوم او حيثيـت تـه کـوم تـوان و نـه رسـيږي هېڅ  اداري تـه مـې د عدالـت غوښـتنې لپـاره مراجعـه و نـه کـړه.
پـه همـدې ترتيـب يـو شـمېر نـورې خبريالانـې د نـورو تلويزيونونـو څخـه هـم همـدا شـکايت لـري. خبريالانـې وايـي، هـرې ادارې تـه د عدالـت غوښـتنې لپـاره مراجعـه ددوی او ددوی د کورنـۍ د بدنامـۍ باعـث ګرځـي او همدارنګـه د سـيمه ييـزو چارواکـو او زورواکـو لـه لـوري ګواښـونو سره هـم مـخ کيـږي.
پـه همـدې حـال کـې د خبريالانـو د حقونـو مدافـع بنسـټونه او د کميټـې د همکارانـو ځيرنـې پـه شـمال کـې د ميرمنـو د ځورونـې او پـه رسـنيو کـې داخلاقـي فسـاد دشـتون پـه تـړاو ښـيي  چـې پـه رسـنيو پـه ځانګـړي ډول پـه شـمال کـې د ميرمنـو کـم او پيکـه شـتون بېلابېـل دلايـل لـري.
١-	کورنـۍ يـې علاقـه نـه لـري ، چـې  د کورنـۍ يـوه غـړې يـې د ټلويزيـون پـه پـرده راڅرګنـده شي او يـا هـم د راډيـو لـه لارې يـې غـږ واوريـدل شي او يـا هـم د خبريـال او ژورناليسـت نـوم پرهغـې ولګـول شي او دليـل يـې هـم د رسـنيو پـه دننـه کـې د اعتـماد او بـاور د فضـاء نشـتون دی.

۲-	لـه میرمنوځخـه د نـاوړي ګټـې اخیسـتنې او جـذب یـو بـل مـورد ددوی سـمبولیک او ابـزاري رول دی خـو یـوه د اندیښـنې وړ ښـکارنده پـه دولتـي او نادولتـي رسـنیو کـې د ښـځینه خبریالانـو پـه برخـه کـې د اخلاقـي فسـاد شـتون دی . د بېلګـې پـه توګـه د پیغـام، لیـک ، تلیفـوني اړیکـې او نـورو لارو پـه مرګـه تهدیـد دی ،لکـه بیـا پـه ټلویـزون کـې را ښـکاره شـوې د مـرګ لامـل بـه دې شي پـه شـان ګواښـونه.

سـنتي چلنـد، لـه تبعیـض ځخـه ډک نظـر او پـه رسـنیو کـې لـه ښـځینه وو ځخـه نـه ملاتـړ نـورې ننګونـې دي ، چـې پـه افغانسـتان کـې د رسـنیو پـه ډګـر کـې  د ښـځینه خبریالانـو پـه مخ کـې پرتـې دي.

لـه دې ټولـو ننګونـو سره سره ښـځینه خبریالانـې هڅـه کـوي ، چـې پـه رسـنیو کـې د حسـاب وړ رول ولـري او دا پـه  داسـې حـال کـې ده چـې بایـد د دولـت ، صنفـي اتحادیـو او نړیوالـې ټولنـې لـه څـو اړخیـزو همکاریـو ځخـه برخمنـې وي. خـو پـدې برخـه کـې د حکومـت ملاتـړ ډېـر کـم دی. ښـځینه خبریالانـې وایـي چـې د دولتـي ادارو مسـوولین ددې ښـکارندې د پیـل او پراخیـدو باعـث شـوي دي. او د هغـوی پـه بـاور مفسـدینو تـه د سـزا نـه ورکولـو د ښـځینه خبریالانـو پـه روحیـه بانـدې منفـي تاثیر کـړی دی.

د یادونـې ده  چـې پـه ټولنـه پـه ځانګـړي ډول د کار پـه سـاحه کـې د اخلاقـي فسـاد زیاتوالـی د میرمنـو د عـرفي محکومیـت پـه اسـاس  د افغانسـتان پـه کامـلاً سـنتي ټولنـه کـې ددې ډول قضیـو پټـه سـاتنه ده او همدارنګـه ددې ډول قضیـو د عاملانـو نـه معـرفي کـول دي.

### په ولایتونو کې د خبریالانو او رسنیو ستونزې

پـه ولایتونـو کـې خبریـالان لـه مرکـز ځخـه پـه مراتبـو پـه ډېـر کـم معـاش او امتیـاز سره کار کـوي . پـه ولایتونـو کـې د خبریالانـو شـکایتونه هغـه مهـال پورتـه کیـږي چـې اړونـده رسـنۍ یـې ونـښي کـولای هغـوی تـه معاشـونه او نـور امتیـازات پـه منظـم ډول ورکـړي او دا سـتونزه همدلتـه پـای تـه نـه رسـیږي.اقتصادي سـتونزې او پـه سـیمه ییـزو رسـنیو او رسـنیزو ادارو بانـدې  د نړیوالـې ټولنـې لـه لـوري د مرسـتوبندیدل ددې لامـل ګرځیدلـی دی چـې ددې رسـنیو پـه لسـګونه کارکونکـي خپلـې دنـدې لـه لاسـه ورکـړي او دنـورو لسـګونو کارکونکـو معاشـونه لـه دیرشـو تـر پنځـوس فیصـدو پـورې راکـم شي.

د بېلګـې پـه توګـه: د هېـواد پـه شـمالي ولایتونـو کـې ټلویزیونونـه اوراډیوګانـې هـر یـو یـې د مخابراتـو وزارت د فریکونسـۍ د فیس لـه کبلـه لـه څـو کلونـو راپـدې خـوا پـوروړې دي او پـه دغـه قـرض بانـدې د هـرکال پـه تیریـدو سره سـل  پـه سـلو کـې جریمـه کـې هـم زیاتوالـی راځـي. یـوه بلـه لویـه سـتونزه د رسـنیو دبریښـنا مسـله ده  چـې پـه ولایتونـو کـې د هـر کیلـو واټ پـه مـصرف سره بایـد رسـنۍ ۱۳ افغانـۍ ورکـړي ، چـې دا هـم ددې رسـنیو یـو لـه اسـاسي مشـکلاتو ځخـه شـمیرل کیـږي او هغـوی یـې لـه اقتصـاد ي پلـوه لـه جـدي سـتونزو سره مخامـخ کـړې دي .

د بریښـنا د مـصرف لـه کبلـه دومـره پیسـې پـرې کـول دهغـو رسـنیو لپـاره چـې قـوي بـازار نـه لـري او یـوازې یـې عوایـد څـو سـیمه ییـز اعلانونـه او لـږې او نـږدې دوکانونـه دي سـتونزمن دي. دغـې مسـلې د رسـنیو پـه اقتصـادي وضیعـت بانـدې پـه اتوماتیـک ډول تاثیر کـړی دی او ددې باعـث ګرځـي، چـې د رسـنیو څښـتنان هغـو پیسـو ځخـه چـې د رسـنۍ د کارکونکـو او خبریالانـو لپـاره یـې ورکـوي یـو څـه کمـې کـړي او پـه مصارفـو کـې هـم کموالـی راولي.

د رسـنیو څښـتنان وایـي، چـې د نـورو تولیـدي شرکتونـو پـه څیر د دوی لپـاره هـم بایـد هرکیلـو واټ بـرق پـه ۷ افغانـۍ بانـدې حسـاب شي. او لـه بـل پلـوه رسـنۍ بایـد مالیـې وزارت او مسـتوفیت تـه هـم مالیـه ورکـړي ، چـې پـدې برخـه کـې هـم رسـنۍ مخالـف نظرونـه لـري. بـل خـوا د ایسـا جـواز هـم رسـنۍ مکلفـې کـړې دي چـې هـرکال بایـد پیسـې ورکـړي پداسـې حـال کـې چـې د رسـنیو لپـاره بایـد ددې جـواز اړتیـا نـه وي ځکـه چـې رسـنۍ د اطلاعاتـو او فرهنـګ وزارت ځخـه جـواز اخـلي. دې ایسـا دجـواز ترڅنـګ بایـد رسـنۍ د تجـارت وزارت جـواز بایـد ولـري . د رسـنیو څښـتانان پـدې بـاور دي  چـې د سـیمه ییـزو رسـنیو لپـاره دا دوه جوازونـه لازم نـه دي ، ځکـه چـې دا اداري کـوم څـه نـه واردوي نـو اړتیـا نشـته  چـې دا ډول جوازونـه دې ولـري.

یـادې شـویو سـتونزو یـوې بلـې سره لاس ورکـړی او د سـیمه ییـزو رسـنیو لپـاره یـې دفعالیـت سـاحه محـدوده کـړې ده چـې پـه هرصـورت کـې مسـتقیم زیـان یـې د رسـنیو کارکونکـو او خبریالانـو تـه رسـیږي.

د نوي حکومت يو له مهمو او ښوو اقداماتو څخه داو چې د حکومت د اجرايوي رييس له ژمنې سره سم چې له ژورناليستانو سره يې کړه وه چې د رسنيزو شکايتونو او سرغړونو ناقانونه کميسيون به لغوه کوي او هغه ژمنه يې پوره کړه.د اطلاعات او فرهنګ وزارت په خپله يوې نشر شوې خبرپاڼه کې وويل : «د اطلاعات او فرهنګ وزارت د ټوليزو رسنيو د دوه ځلويښتمې مادې په پام کې نيولو سره په دې باندې مصمم شو چې د رسنيزو شکايتونو او سرغړونو کميسيون ته د پای ټکی کيږدي او ډير ژر د هېواد د ټوليزو رسنيو د چارو د ښه والي په خاطر ، د ټوليزو رسنيو کميسيون له رسنيو څخه د ملاتړ د ادارو او دهېواد د ژورناليستانو په سلا او د ټوليزو رسنيو له قانون سره سم تاسيس کړي.
د رسنيزو شکايتونو او سرغړونو کميسيون خبريالاتو ته د محدوديتونو د پيدا کولو ترځنګ له تشکيلاتي پلوه هم ستونزه لرله ځکه چې د رسنيو په اوسني قانون کې د ټوليزو رسنيو کميسيون هم وجود لري ، چې دکاري مسوولیت له پلوه د رسنيزو سرغړونو له کميسيون سره يې ورته والی درلود.

په همدې حال کې يو شمېر خبريالان وايي ، چې دشکايتونو او رسنيزو تخلفاتو کميسيون ډيرې وړې او عادي رسنيزې مسلې عدليې او قضايي ارګانونو ته سپارلې او له دې پلوه دغه کميسيون د خبريالانو او رسنيو د ستونزو د اواري پرځای هغوی له جدي ستونزو سره مخامخ کول.

د رسنيزو شکايتونو او سرغړونوکميسيون د مشر په توګه د اطلاعاتو او فرهنګ د وزير شتون هغه سوال و چې ددې کميسيون د بې پريتوب په اړه راپيدا شوی و او خبريالان پدې باور وو چې د شکايتونو او رسنيزو سرغړونوکميسيون يو حکومتي کميسيون دی چې د حکومت د موخو او د اطلاعاتو او فرهنګ د پخواني وزير د شخصي سليقې لپاره ترې استفاده کيده.

**معلوماتو ته د لاس رسي پر قانون د څار کميسيون جوړيدل**

د نوي حکومت يوه بله لويه لاسته راوړنه داده ،چې هماغه لومړيو ورځوکې يې چې د خپل کار په لومړيو ورځو کې يې يې معلوماتو ته د لاس رسي قانون توشيح کړ.
معلوماتو ته د لاس رسي قانون نه يوازې خبريالانو ته بلکې د هېواد ټولو اوسېدونکو ته دا حق ورکوي ،چې له مقاماتو او حکومتي چارواکو څخه د کارونو او چارو دڅرنګوالي په اړه پوښتنه وکړي او لازم معلومات ترلاسه کړي.
خبريالان وايي سره له دې چې معلوماتو ته د لاس رسی قانون په مشکل سره تصويب شو، پدې قانون کې نږدې شل ستونزې پيژندل شوې دي ، چې درې يې ډيرې مهمې ګڼل شوې دي.
په اول مورد کې ټينګار شوی دی، چې معلومات بايد له دولتي ارګانونو څخه واخيستل شي خو دخصوصي ادارو يادونه نده شوې.
دويم مورد معلوماتو ته د لاس رسي دقانون څخه د نظارت د کميسيون د تشکيل څرنګوالی دی . د کميټې وړانديز داوه چې کميسون بايد مستقل وي او بايد دحکومتي نهاد ترچتر لاندې کار و نه کړي خو حکومت د بوديجوي ستونزو پر اساس دغه موضوع او نه منله.
،د ملي مصالحو او ملي منافعو مفاهيم د هېواد په قانون کې په واضح ډول ندي تعريف شوي او هروخت حکومتي مسوولين کولای شي همدا يوه بهانه ونيسي او د اطلاعاتو له ورکولو څخه ډډه وکړي.
داچې ددې قانون له توشيح څخه مياشتې تيريږي تراوسه دغه قانون عملي بڼه نه ده غوره کړې.
د روان کال دچنګاښ په پنځلسمه د اطلاعات او فرهنګ وزارت معلوماتو ته د لاس رسي قانون له توشيح وروسته ددغه قانون د پلي کولو لپاره معلوماتو د لاس رسي د نظارت کميسيون ترعنوان لاندې يو کميسيون جوړ کړ ، چې د رييس او مرستيال په ګډون ديارلس غړي لري ، په دغه کميسون کې د خبريالانو په استازيتوب دوه تنه ، دمدني ټولنې په استازيتوب دوه دتنه ، دملي امنيت ، اطلاعات او فرهنګ ، د افغانستان د حقوقپوهانو اتحاديې، د سوداګرۍ د خونو او همدارنګه دمخابراتو او اطلاعات او فرهنګ استازي ګډون لري.

## پایله او سپارښتنې

د ۲۰۱۵ کال لومړۍ شپږ میاشتې دیو لړ ستونزوسره سره ،چې د خبریالانو پروړاندې موجودې وې خو بیا هم دتیرو کلونو دتهدید او تاوتریخوالي په پرتله ښیې وې. د تېرو کلونو په نسبت د تاوتریخوالي یو شمېر زیاتې پیښې حل شوې دي ،چې دا په خپله د خبریالانو ددفاع د ټولنو پیاوړې کېدل او همدارنګه دخبریالانو اړیکه له دغو اداروسره ښیی.
له رسنیو څخه د ملي وحدت د حکومت د مشرانو ملاتړ د ستاینې وړ دی، خو دغه ملاتړ باید عملي بڼه غوره کړي ، له دغه ملاتړ سره سره حکومتي منسوبین لا د تاوتریخوالي د زیاتو پیښو عاملین دي ، کوم شی چې د خبریالانو لپاره دمنلو وړ نه دي.
د حکومتي منسوبینو او موظفینو له لوري د تاوتریخوالي لوړ ګراف د اندیښنې وړ دی. حکومت اصولاً او قانوناً دخبریالانو لپاره د خوندي چاپیریال په برابرولو باندې مکلف دی په داسې حال کې، چې حکومت په خپله دخبریالانو پرضد د زیات تاتریخوالي لامل شوی دی. دائمه باید ونلرو چې دخبریالانو لپاره دې خوندي چاپیریال ښه والی وومي. له بل پوله دغه چاره دخبریالانو او حکومت ترمینځ د واټن د ډیریدو باعث ګرځیدلې ده او د ښېې حکومتولۍ، د فساد دکموالي ، د ډیموکراتیکې پروسې د پیاوړي کیدو او عامه پوهاوي چاروخنډ ګرځیدلې ده.

دحکومت او رسنیو ترمنځ واټن د طالبانو او دنظام د نورو مخربینو د تبلیغاتو دپراخیدو سبب ګرځیدلې ده ، چې دغه چاره هم د رسنیاو هم حکومت په زیان ده ، حکومتي منسوبین باید له رسنیو سره د یوه پارټنر په حیث دنده ترسره کړي ځکه ، چې رسنۍ د ازادې او ډیموکراتیکې ټولنې یو اساسي رکن دی.

امنیتي مسوولین تراوسه هم دخبریالانو پرضد یو لړد پام وړ تاوتریخوالي مسوول دي. دغه چاره دخبریالانو او امنیتي ادارو ترمنځ دمسلکي همکاریو د کمیدو باعث ګرځیدلې ده. دامنیتي ادارو مسوولین باید خبریالانو سره چلند دامنیتي سرتیرو د نصاب یوه برخه وګرځوي او دوی باید د خبریالانو له حقونو او صلاحیتونو څخه خبر کړي.

د ډیموکراتیکې ټولنې د پرمختګ اوتحکیم لپاره د سمې راپور ورکونې او د موادو د برابرولو لپاره رسنۍ اړینې دي. هڅه دې وشي چې د فساد د ورکونې او د ښېې حکومتولۍ د پیاوړتیا لپاره دې په څېړنیزو راپورونو باندې چې د ټولنې لوی ضرورت دی کار وشي، چې یو کم شمېر رسنۍ په څېړنیزو راپورونو باندې کار کوي.

معلوماتو ته د لاس رسي قانون ډیرې ستونزې لري په هغه صورت کې چې حکومت ددې قانون د لا ښوالي لپاره ګام پورته نه کړي د جوړ شوي کمیسیون اغیزه به هم ددې قانون دعملي کولو په برخه کې ډیره نه وي . جمهور رییس د یوه تقنیني فرمان له مخې د رسنیزو ادارو له لوري وړاندیز شوي بدلونونه باید په قانون کې شامل کړي. ددې ترڅنګ باید حکومت دقانون په اجرا کې د حکومتي ادارو له لاسوهنې څخه هم ممانعت وکړي او باید د کمیسیون دغړو دندې د دوی د کار د ډیروالي په اساس باید دایمي وي.

له یو زیات تعداد میرمنو سره ، چې په رسنیو کې په کار بوختې دي ناسم چلند او په یوشمیر حالاتو کې نامشروع عمل کیږي. دغه ډول حالت میرمنې په سختو شرایطو کې راګیر کړې دي او په ځینې شرایطو کې له دوی څخه ناوړه ګټه اخستل کیږي او دغه چاره په ډیری ولایتونو کې لیدل کیږي. په ولایتونو کې ددغه ډول حالاتوموجودیت په رسنیو کې د میرمنو د نشتوالي یو اساسي دلیل دی. حکومت باید له دغه ډول حالت سره جدي چلند وکړي او میرمنې هم دغه ډول حالاتو سره دمخامخ کېدو پرمهال باید د خبریالانو مدافع ټولنو ته مراجعه وکړي.

د نړیوالو مرستو په کمېدو اود اقتصادي رکود له امله چې ډیرې رسنۍ په ځانګړي ډول هغه رسنۍ چې په ولایتونو کې کار کوي له اقتصادي ستونزو سره لاس او ګریوان شوې دي. د افغانستان حکومت باید د مصارفو په ټیټوالي کې لکه بریښنا او دحکومتي فیسونو لکه د فریکونسۍ د فیس په ټیټ والي کې جدي اقدام وکړي. په هغه صورت کې چې له رسنیو سره پدې برخه کې مرسته ونشي یو زیات شمېر رسنۍ به مجبورې شي چې خپل نشرات بند کړي.
د نړیوالې ټولنې مالي او اخلاقي ملاتړ له رسنیو او د بیان دازادۍ له ارزښتونو سره په دې وروستیو کې کم شوی دی.

دډیموکراسۍ د پروسې په تحکیم، دښې حکومتوالۍ او دبشري حقونو لکه د میرمنو دحقونو په لا ښه والي کې باید نړیواله ټولنه له رسنیو سره همکاري خپلو ستراتیژیکو لومړیتوبونوکې راولي. د رسنیو د ازادۍ په تړاو د نړیوالې ټولنې چوپ پاتې کیدل ددې باعث ګرځي  چې د بیان دازادۍ ضد اړخونه لا زړور شي او د بیان د ازادۍ د لارې خنډ ورګرځي .

نړیواله ټولنه او نړیوالې ادارې چې له رسنیو او د رسنیو ملاتړ کونکو ادارو سره مرسته کوي باید خپلې مرستې جاري وساتي او له یوه اوبل سره دهمږګۍ په پراختیا او همدارنګه له هغو افغانو ادار و سره ، چې له دوی سره کار کوي لا ښې کار تابیاو ترلاس لاندې ونیسي. ددغو ادارو ترمینځ ښه همغږي د رسنیو دملاتړو ادارو دکارد لا ښه والي یو اصلي  او بنسټیز شرط دی.